
رابین هوډ
Ketabton.com
لیکوال: لیز آستین
ژباړن: شبیر نوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رابین هوډ

## لیز آسټین

## شبیر نوری


| | |
|---|---|
| کتاب | رابین هوډ |
| لیکوال | لیز آسټین |
| ژباړن | شبیر نوری |
| چاپ | اول |
| تعداد | نا محدود |
| تایپ او خپرونه | شبیر نوری |
| صفحې | |
| بیه | وړیا |
| کال | ۱۴۰۰هـ ش/۲۰۲۱م |
| بریښنایي خپرونه | shabirnoori_vip |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

د ژباړن خبرې ........................................................................................ 1
سریزه........................................................................................................ 2
رابین فیتزوت په (شیروډ) ځنکل کې زیږیدلې ................................................... 3
د ناتینګام ولسوال رابین هوډ پیدا کړ ............................................................. 5
د مریم کوځې په کلیسا کې ....................................................................... 7
د پاچا هوسۍ ....................................................................................... 8
رابین هوډ له کوچني جان سره ګوري............................................................ 11
رابین هوډ د لي له ښاغلي ریچارډ سره مرسته کوي ............................................ 13
ښاغلی ریچارډ راهب ته پیسې ورکوي ............................................................ 15
د ناتینګام ولسوال او اغلې ماریان.................................................................. 16
د ولسوال لیدنه ...................................................................................... 17
ماریان شیروډ ځنګل ته لاړه ........................................................................ 19
رابین هوډ او کشیش ټک............................................................................ 21
دوه راهبان او د سروزرو کڅوړې ................................................................. 23
د لي ریچارډ بیا ځنګل ته راځي.................................................................... 25
رابین هوډ او د سروزرو غشی...................................................................... 26
لوړ کشیش........................................................................................... 28
آخري کارنامه ...................................................................................... 30

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن خبرې

د لوی او ښېوونکي څښتن تعالی په نامه!

د الله(ج) څخه ډېر زیات شکر ګذاره یم، چې یو ځل بیا یې ما او زما قلم ته د علم او پوهې په ډګر کې د خدمت وس او توان راکړ. او د لوی رب العزت څخه د لا ډېر کار او خدمت کولو د توان غوښتوونکی یم.

دا کتاب مې د (White Fang) کتاب په تعقیب وژباړه، او د کیسو او کتاب مینوالو ته مې ډالۍ کړ. دا کتاب له انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته په لومړي ځل وژباړل شو.

زه هیله لرم چې دا کتاب او د دې کتاب کیسې مو د خوښې وړ وګرځي، او له کیسو څخه یې یو څه زده کړې.

د دې کتاب په ژباړه کې د هر ډول خطا او سهوې څخه ښښنه غواړم، او دا کتاب د کوم ادیب په واسطه نده کتل شوې، ممکنه ده چې د پښتو ګرامر او جمله بندي ته ډېر پام نه وي شوی پکې، خو هڅه شوې چې په عام فهمه او روانه ژبه ولیکل شي.

په دې کتاب کې د رابین هوډ (Robin Hood) او د هغه ملګرو په اړه کیسې لیکل شوې، دا کیسې د انګلستان هیواد له مشهورو کیسو څخه دي.

په دې کیسو کې د هغه غل په اړه ویل شوي چې د ښه انسان لقب یې لاس ته راوړی وو، آیا تاسې کوم غل ته د ښه انسان لقب ورکولی شئ؟ د ډېرو ځواب به (نه) وي.

بلکل همداسې ده نشو کولی چې یو غل ته د ښه انسان لقب ورکړو، خو دا هغه غل نده چې تاسو یې په اړه فکر کوئ. دا هغه غل وو چې د خلکو په زړونو کې یې ځالې کړې وې، ځکه چې هغه د خلکو حق له بادارانو څخه اخیستو.

هغه د خلکو د حق لپاره له امیرانو غلا کوله، دا سمه ده چې د هغه کار سم نه وو خو هغه بله لاره نه درلوده. هغه د خپلو غریبو خلکو سره مرسته کوله.

تاسو کولی شئ د هغه نامتو کیسې په دې کتاب کې ولولې او درس ترې واخلې.

د رابین هوډ کیسو ته پخیر راغلئ.

**په درناوي**

**شبیر نوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

خان ګیموېل سړی د شېروډ ځنګل تر منځه تعقیب کړ. هلته، د پسرلي په لمر کې، هغه خپله لور ولیده. همدارنګه هغه د هغې په غېږ کې کوچنی ماشوم ولید. جوانا پورته خپل پلار ته وکتل او موسکا یې وکړه.

هغې وویل: دا رابین ده، ستا لمسی.

رابین هوډ په ځنګل کې زیږیدلی وو، او ځنګل د ډېر وخت لپاره د هغه کور وو. د هغه کیسه د سلګونه کاله پخوانې ده. په هغه وخت کې. په انګلستان کې، ډېری ساکسون خلک په کوچني کلي کې د نورمان بادارانو (له نارماندي څخه، اوس په فرانسه کې) په ځمکو کې ژوند کاوه. نورو خلکو د کلیسا په ځمکه کې ژوند کاوه. دغو کلیوالو ته ژوند سخت وو ځکه چې دوی مجبور وو چې کلیسا او ددوی بادارانو ته پیسې او ډوډۍ ورکړي.

نو د کلي خلکو مینه درلوده چې د رابین هوډ په اړه کیسې واوري. رابین هوډ زیرک وو، قوي او شجاع وو. هغه کارنامې خوښولی، او هغه د انګلستان تکړه جنګیالی وو. هغه له امیرانو پیسې اخیستلې او د کلي غریبو خلکو ته یې ورکولې.

د رابین هوډ ډېرې نامتو کیسې په دې کتاب کې دي. دا د ښایسته اغلې ماریان، د ناتینګام حریص ولسوال، ښه پاچا ریچارډ، او د هغه بد ورور شاهزاده جان په اړه دي.

ډېر هیوادونه د شجاعت او زیرکتیا په اړه کیسې لري. خو آیا رابین هوډ یوازې یوه کیسه ده؟ شاید رابین ریښتیا ژوند کړی، او شاید نه. هلته یو پاچا وو ریچارډ هغه له (۱۱۸۹ تر ۱۱۹۹)م پورې پاچا وو. هغه انګلستان پرېښود او په بیت المقدس کې یې جنګ وکړ. کله چې هغه لرې وو، شاهزاده جان ډېر مهم سړی وو په انګلستان کې. بیا، کله چې ریچارډ مړ شو، جان راتلونکې پاچا وو.

کیسو ویلي چې رابین هوډ د خپلو نفرو سره د شېروډ په ځنګل کې اوسیده. ناتینګام ښار ته نږدې. شېروډ ځنګل او ناتینګام په دوه سوه کیلو متری کې د لندن شمال ته پراته دي. ډېری خلک هلته وایي چې رابین هوډ په ریښتیا هم ځنګل کې اوسیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابين فيټزوت په (شيروډ) ځنګل کې زيږيدلی

د رابين هوډ[1] کيسې ډيرې نامتو دي. ډيری خلک پوهيږي چې رابين د ساکسون[2] او نورمان[3] په وختونو کې اوسيده. هغه له اميرانو غلا کوله او پيسې يې غريبو خلکو ته ورکولې. خو هر څوک نه پوهيدل چې هغه د اميرې کورنۍ راغلی. او ډير خلک نه پوهيدل چې رابين هوډ نيمه-ساکسون او نيمه-نورمان وو.

◆

کيسه د رابين هوډ د ساکسون نيکه سره پيل کيږي، ښاغلی جورج ګيمويل[4]. ګيمويل نورمان بادار ته نږدې اوسيده. دې بادار غوښتل چې د ګيمويل کور او ځمکې ونيسي. د دوو سړيو جګړه وه، او نورمان بادار د ګيمويل دوه زامن ووژل. د ګيمويل ښځه هم مړه شوه.

خو ښاغلي جورج يوه ځوانه لور لا درلوده، جوانا[5].

ګيمويل جوانا ته وويل: زه زوی نه لرم، نو زه به تاته در زده کړم چې څنګه په توره جنګ وکړې، کمان او غشي سره.

پنځه کاله وروسته، جوانا ۱۹ کلنه او ډيره ښايسته وه. يوه ورځ، يوه ځوان ښاغلي جورج سره وليدل. د هغه نوم ويليام فيټزوت[6] وو ، او هغه يو نورمان وو.

هغه خبرې شروع کړې: ښاغلی جورج، زه ستا لور سره مينه لرم. زه هيله مند يم چې هغه هم زما سره مينه ولري. زه غواړم چې هغې سره واده وکړم. زه پيسې او ځمکه لرم...

خو ښاغلی جورج ډير په غوسه وو.

هغه ځواب ورکړ: هيڅکله! زما لور به هيڅکله له تا سره واده ونکړي. زما له ځمکې ووځه. بيا دلته رانشې کنه مړ به دې کړم!

جوانا دغه ځوان سره مينه درلوده. نو هغې کوشش کاوه چې د خپل پلار سره خبرې وکړي، خو هغه نه غوښتل چې غوږ ورته ونيسي.

هغه چيغه کړه: خپلې کوټې ته لاړه شه! زه نه غواړم د هغه سړي نوم بيا واورم.

هغه شپه، ويليام بيا د ښاغلي جورج کور ته راغې. هغه د جوانا د ورسۍ لاندې ودريد او غږ يې ورته وکړ. جوانا ځيني کالي را واخيستل او په خاموشی له کوره ووته.

[1] Robin Hood
[2] Saxon
[3] Norman
[4] George Gamwell
[5] Joanna
[6] William Fitzooth

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلیام د هغې لاس ونیو. هغه وپوښتل: آیا ته به ما سره راشې او واده به وکړې؟ مونږ زما په کور کې نشو اوسیدلی ځکه چې ستا د پلار نفر به هلته ستا لپاره راشي. نو مونږ به شنه ځنګل کې اووسو.

جوانا په خپګان وویل: زه مې د پلار په اړه ښښنه غواړم، خو زه تا سره مینه لرم. زه پوهیږم ته ښه سړی یې. زه به تا سره واده وکړم.

په سهار کې، ښاغلی جورج ناوخته ویښ شو. هغه خپلو نفرو ته غږ کړ، لور مې چیرته ده؟ زه غواړم هغې سره خبرې وکړم.

خو جوانا اوس هلته په کور کې نه وه.

ښاغلی جورج ډیر غوسه او خپه وو.

هغه فکر وکړ: زه اوس کورنۍ نه لرم.

◆

یوه ورځ په آپریل کې، یو کال وروسته، یو سړی کور ته راغلو.

هغه وویل: ستا لور زه دلته راولیږلم، هغه له تا غواړي چې راشې او هغه وګورې.

ښاغلي جورج سړی د شیروډ[1] ځنګل تر منځ تعقیب کړ. هلته، د پسرلي په لمر کې، هغه خپله لور ولیده. همدارنګه هغه یو وړوکی ماشوم د هغې په غیږ کې ولید. جوانا پورته خپل پلار ته وکتل او موسکا یې وکړه.

هغې وویل: دا رابین دې، ستا لمسی.

هغې ماشوم خپل پلار ته ورکړ. ښاغلي جورج غوښتل چې جدي اووسي، خو هغه ډیر خوشحاله وو د خپل لمسي سره چې په غیږ کې یې وو.

هغه وویل: رابین؟ آیا دا ستا نوم دی؟ ښه، کوچنې رابین، ما غوښتل چې ستا پلار ووژنم خو اوس ممکنه نده. مهرباني وکړه، لورې، د خپل خاوند سره راشه او زما ځنګ ته اووسه. راځه تیر هیر کړه.

جوانا وویل: مونږ به راشو او تا سره به نږدې اووسو، پلاره، خو زه به کله،کله زوې ځنګل ته راوړم. زه به هغه ته درس ورکړم چې په ورځ او شپه کې څنګه ځنګل کې خپله لار پیدا کړي. هغه به زده کړي چې څنګه غشی او کمان جوړ کړي، او د ځنګل حیوانات ونیسي. هغه به اور جوړ کړي او غوښه پخه کړي. ځنګل به همیشه د هغه دوهم کور وي.

[1] Sherwood

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناتینګام ولسوال رابین هوډ پیدا کړ

د رابین نیکه مړ شو، بیا، د هغه مور او پلار مړه شول. وروسته له ۲۵ کلونو، رابین د ګیمویل[1] او لوکسلي[2] مالک شو، او د هغه پلارني کور کې اوسیده، د لوکسلي کور.

د کلیوالو رابین فیتزوت خوښیده.

دوي ویل: هغه یو ښه سړی دی، هیڅ سړی، ښځه یا ماشوم وږي ندي پاتې د رابین په لوکسلي ځمکه کې.

ټول مشران مهربانه نه وو. خراب یو یې د ناتینګام حریص ولسوال وو. ولسوال ټول شیان له کلیوالو واخیستل، او کله، کله دا غریب خلک ډیر وږي وو. رابین په ډیر پام سره د ولسوال کیسو ته غوږ نیولی وو. هغه ډیرو غریبو کورنیو ته کالي او ډوډۍ ولیږله.

◆

په دې وخت کې، خلکو شروع کړه چې د غله په اړه کیسې ووایي. دوي هغه ته رابین هوډ ویل.

دوي ویل: ولیوال سخت سړی دی، هغه او د هغه امیرو ملګرو هر څه له مونږ واخیستل. خو اوس شجاع رابین هوډ او د هغه نفر د امیرانو څخه غلا کوي او غریبو کلیوالو ته پیسې ورکوي!

په هغو ورځو کې، د شمال لوی سرک د شیروډ ځنګل څخه تیر شوی وو. د رابین هوډ نفرو کله،کله امیران په دې ځنګل کې درول، او د دوي پیسې یې اخیستلې. ځیني وخت د شاهزاده جان[3] نفر هم لدې سرک تیریدل. نو رابین هوډ د دوي څخه هم غلا کوله.

شاهزاده جان ولسوال ته وویل: دا ځنګل ستا په ځمکه کې دی، ولې ته نشې کولی دغه غله ونیسې او ووژې؟

ولسوال ځواب ورکړ: دا ډیره اسانه نده، د کلي خلک نه غواړي ماته څه ووایي. دوي یوازې وایي چې غله په شیروډ ځنګل او ځنډو کې اوسي. خو دوي ډیر پوهیږي او کم وایي. زه پلان لرم چې ددې رابین هوډ په اړه زیاد پوه شم.

شاهزاده وپوښتل: ستا پلان څه دې؟

ولسوال ځواب ورکړ: دغه دې، د لوکسلي رابین د شیروډ ځنګل څنګ ته اوسیږي. شپې ته به د لوکسلي په کور کې غټ جشن وي. زه پوهیږم چې هغه فیتزوت به د کلي خلک خپلې ځمکې ته دعوت کوي. نو زه به خپل یو نفر ورولیږم. هغه کولی شي چې د کلي جامې واغوندي او د (ښه) رابین هوډ په اړه به پوښتنه وکړي، (د خلکو ملګری). کله چې زه ددې رابین په اړه ډیر پوه شم، زه کولی شم هغه ونیسم.

[1] Gamwell
[2] Locksley
[3] Prince John

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ماښام، هلته ډېر خلک ول د لوکسلي په کور کې. هلته ډوډۍ او څښاک وو د کلیوالو لپاره، او هلته نڅاوې او سندرې وې. ټول ډېر خوشحاله وو. او رابین خوشحال ترین شخص وو هلته، ځکه چې هغه او مینه ناکې اغلې ماریان فیټزوالټر[1] بله ورځ ته د واده پلان درلود.

د ولسوال نفر خپل څنګ ته یو کلیوال ته مخ واړوه.

هغه وویل: زه ډېر ځله د رابین هوډ نوم اورم، هغه څوک ده؟ آیا هغه دلته نږدې اوسیږي؟

سرې وخندل: ته هغه نه پیژنې، ملګریه؟ رابین فیټزوت په اصل کې رابین هوډ دی!

د ولسوال نفر په بیړه له لوکسلي کور څخه ووت او خپل مشر ته ورغې.

ولسوال وویل: دا له دې بهتره ده چې ما یې هیله درلوده، سباته، د مریم کوځې په کلیسا کې رابین فیټزوت به له اغلې ماریان سره واده وکړي. خو زما نفر به هغه ودروي او زما خواته به یې راولي. شهزاده جان به هغه ووژني او د فیټروت پیسې او ځمکه به ماته راکړي. زه فکر کوم چې د ماریان کورنۍ هم امیره ده. هغه به له رابین سره واده ونکړي، نو شاید زه له هغې سره واده وکړم. هو، سبا به زما لپاره یوه ښه ورځ وي!

[1] Marian Fitzwalter

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مريم کوڅې په کليسا کې

د سهار په لس بجو کې، رابين فيټزوت او اغلې ماريان د مريم کوڅې په کليسا کې د راهب مخې ته ولاړ ول. اغلې ماريان يو څو کاله له رابين څخه ځوانه وه، او ډېره مينه ناکه وه. هغې سپينې جامې اغوستې وې، او د هغې د اوږدو ويښتانو رنګ د ځنګل د ونو خزان په څېر وو.

راهب په خبرو شروع وکړه.

هغه شروع کړه: د لوکسلي رابين، آيا ته...

يو چا د کليسا له شا غږ کړ: ودريږه!. رابين مخ واړوه. هغه د ناټينګام ولسوال وو. د هغه شاته شل نفر د تير او کمان سره وو.

ولسوال په لوړ غږ وويل: زما ښاغلی راهب، دا سړی به له ماسره راځي. هغه غل دی، رابين هوډ! بيا هغه خپلو نفرو ته مخ واړوه. او ويې پوښتل: ولې تاسې انتظار باست؟ هغه ونيسئ!

رابين ځواب ورکړ: هو، زه رابين هوډ يم، خو ته به ما ونه نيسې. په ځير سره د کليسا شاوخوا وګوره، ولسواله، ته زما نفر نه ګورې؟

ولسوال ۳۰ ډير لوړ، قوي نفر وليدل. راهب ډير په غوسه او ډار شوې وو. هغه چيغه کړه: تاسو څه کوې؟ آيا تاسې په کليسا کې جنګ کوې؟

ولسوال يو ځل بيا وويل: دا سړی بايد له ما سره لاړ شي، توره دې ماته راکړه، رابين هوډ، او په خاموشۍ راشه. دا ښه راهب له تا څخه نه غواړي چې جنګ وکړې!

رابين په ورو د ولسوال خواته لاړ.

هغه وويل: دغه ده واخله، زما مشره، - ولسوال يې د تورې په شا سره سخت وواهه. ولسوال شاته وغورځيد.

رابين چيغه کړه: د باندې ووځئ! ټول د باندې ووځئ.

د هغه نفرو د ولسوال نفر د دروازې په لور ټيله کړل. د کليسا د باندې غټه جګړه وشوه.

رابين ماريان ته په تيزه خبرې کولې.

هغه ويل: مونږ کولی شو چې نن جنګ وکړو او وګټو، خو اوس ولسوال زما په نوم پوهيږي، او زه نشم کولی لوکسلي کور ته وګرځم. زما لپاره انتظار وکړه، زما مينې. ريچارډ پاچا به بيا انګلستان ته راشي – هغه به د حريص ولسوال او ملګرو په اړه واوري. خو اوس به زه د شيروډ ځنګل رابين هوډ شم نه د لوکسلي رابين. زه به هيڅکله ښځې ته ضرر ونه رسوم، يا ماشوم او غريب سړي ته. خو امير او حريص سړی به ويريږي چې زما په ځنګل کې قدم کيږدي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاچا هوسۍ

په کلیسا کې د جنګ وروسته، د ناټینګام ولسوال[1] د شاهزاده جان څخه د رابین فیټزوت د ځمکو غوښتنه وکړه. شاهزاده هغه ځمکې د ډیرو پیسو او طلا په بدل خرڅې کړې. البته، دې حریص ولسوال، غوښتل چې خپلې پیسې زر تر زره تر لاسه کړي. نو هغه غریب کلیوال مجبوروول چې د مخکې څخه ډیرې روپۍ ولسوال ته ورکړي. د رابین په ځمکه کې کلیوال هم مجبور ول چې پیسې ورکړي. د دوی نوی مشر، ولسوال، یو ډیر سخت سړی وو.

یو ددې کلیوالو څخه فارنس فیلډ[2] وو. هغه شیروډ ته ډیر نږدې وو، او کلیوال ډیر وخت دې ځنګل ته تلل. هلته دوې وارې حیوانات او مرغۍ د شپې ډوډۍ لپاره نیول. د دوې لومړی لیدنه له فرانس فیلډ څخه، ولسوال او د هغه نفرو له هغوې څخه پیسې او ډوډۍ واخیسته. دوې یو سپین ږیری په دې ځنګل کې ولید، چې یوه مړه هوسۍ یې شاته نیولې وه.

په هغه ماښام، ولسوال کلیوال را وغوښتل. بیا یې نفرو سپین ږیری او هوسۍ راوسته.

ولسوال په لوړ غږ وویل: ښه غوږ ونیسئ! تاسو پوهیږې چې په ځنګل کې هوسۍ د پاچا هوسۍ ده. پاچا او د هغه مشران کولی شي چې هغه ونیسي او مړه کړي – تاسو نشې کولی. دغه ماښام، زه به تاسو ته دا خبره در یاد کړم!

ولسوال خلکو ته وکتل او موسکا یې وکړه. هیچا خبرې ونه کړې. بیا هغه سپین ږیرې ته مخ واړوه.

ولسوال په سړه پوښتنه وکړه: سپین ږیریه، نوم د څه دې؟

سړي په ډار سره ځواب ورکړ: زما مشره، زه..زه..زه میچ ځنګلي سړی یم.

ولسوال وویل: ښه، میچ ځنګلي سړیه، تا د پاچا هوسۍ وژلې. ته به ماته څومره پیسې راکړې ددې لپاره؟

غریب میچ وویل: زما مشره، ته پوهیږې چې زه تاته څه نشم درکولی! تا..تا زمونږ ټولې روپۍ واخیستې... او زمونږ ډوډۍ. ما هوسۍ پیدا کړه، خو هغه مړه وه. ما هغه نده وژلې!

ولسوال وویل: سپین ږیریه، زه ستا کیسو ته لیواله نه یم، ته ماته پیسې نه شې راکولی؟ ډیر ښه، بیا نو ته به ماته خپل ژوند راکړې!

هغه خپل یو نفر ته مخ واړوه. او ویې ویل: دا غل ووژنئ، او کور یې ختم کړئ! دا به د فرنس فیلډ خلکو ته ښه درس وي!

د ولسوال نفر خپله توره واخیسته، او میچ یې په ګونډو کړ. کلیوالو د سپین ږیري ځنګلي سړي سره هیڅ مرسته ونه کړه ځکه دوې ډیر ډار شوي وو. خو میچ غږ وکړ: نه! ما مړ کړئ، خو زما کور مه ورانوئ! هغه زما د زوې کور هم دې، او هغه تاسو ته ضرر ندې رسولی. هغه هوسۍ نده اخیستی. لطفاً، صبر وکړی...! میچ خپلې سترګې ځنګل ته واړولې. او فکر یې وکړ: اوه، رابین هوډ، ته اوس چیرته یې؟ یوازې ته له ما سره مرسته کولی شې.

د ولسوال نفر وویل: نو ته زوې هم لرې؟ ښه، هغه به په کور کې وي چې مونږ کور ورانوو!

هغه په لوړ غږ وخندل، خو ولسوال په ځیر سره ځنګلي سړي ته وکتل.

[1] Sheriff of Nottingham
[2] Fransfield

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غبږ کړ: صبر وکړئ! زه فکر کوم چې دا سړی په څه پوهيږي! سپين ږيريه، ولې ته ځنګل ته ګورې؟ آيا ته فکر کوې چې رابين هوډ به له تا سره مرسته وکړي؟ آيا ته د هغه په اړه په څه پوهيږې؟ ماته ووايه، نو شايد زه تا مړ نه کړم!

ميچ په تيزی ځواب ورکړ: زه به تا رابين هوډ ته وروړم! زه کولی شم چې د هغه کور ته چې په ځنګل کې دی تا ورولم. دغه لاره ده! ما پسې راشئ!

د ولسوال نفر هغه پورته کړ، او ميچ ورو د ځنګل په طرف روان شو. بيا هغه ناڅاپه په ډيرې تيزی سره منډه کړه.

ولسوال چيغه کړه: هغه ونيسئ!

ميچ د ځنګل منځ ته ننږدې شوی وو، خو د ولسوال نفرو زر خپل غشي را وباسل. د دوې غشو هغه وويشت، او ميچ په ځمکه ولويد. د هغه خلاصو سترګو آسمان ته کتل.

ولسوال په غوسه وويل: ما وويل (هغه ونيسئ)، نه چې (هغه مړ کړئ). اوس سړی مړ شو، هغه نشي کولی مونږ ته څه ووايي. هغه کليوالو ته بيا وکتل. شايد تاسو څخه يو نفر ماته ووايي چې د هغو غلو کور په ځنګل کې چيرته دی؟ زه به تاسو ته ډيرې پيسې درکړم!

خو هيچا ولسوال ته د رابين هوډ په اړه څه ونه ويل.

ولسوال اوس ډير په غوسه وو.

هغه خپلو نفرو ته وويل: دا زمونږ لپاره لويه خبره نده، د ځنګلي سړي کور وران کړئ، او مونږ به لاړ شو.

هغه په اخري ځل کليوالو ته بيا راتاو شو. بل نفر به هم د هوسۍ سره مړ شي – خو دومره زر نه. دا په ياد ولرئ!

وروسته په ماښام کې، کليوالو ځنګلي سړی د کلي منځ ته راوړ. د ځنګلي سړي ځوان زوې هم د خپل پلار کور مخې ته ولاړ وو. هلته اوس هيڅ هم نه وو پاتې.

کليوالو هلک ته وويل: مونږ ډيره ښښنه غواړو، مونږ هيڅ هم ونه کړای شول. ډير مه خپه کيږه – ستا پلار په شجاعت مړ شو!

بيا يو کوچنی شړی د تير او کمان سره د دوې شاته کلي ته په خاموشی داخل شو.

کليوالو وويل: هغه ويل سکارليټ[1] دی، د رابين هوډ نفر دی!

ويل سکارليټ خپل کمان په ځمکه کيښود، او خپل لاس يې د هلک پر سر کيښود.

هغه وويل: رابين پوهيده چې ولسوال دلته دی، هغه زه مرستې ته راوليږلم، خو ما ډيره ناوخته کړه! دا سړی څوک وو؟ آيا هغه ستا پلار وو؟

ځوان هلک په خپګان ځواب ورکړ: هو، هغه زما پلار وو، اوس زه هيڅ کورنۍ نه لرم – او کور هم نه لرم! هغه ويل سکارليټ ته مخ واړوه. او په ژړا شو: اوه، لطفاً، ما له ځان سره بوځه! زما پلار ماته د ځنګل په اړه ډير څه راښودلي. تاسو هم ماته درس راکولی شې چې جنګيالی اوسم! زه غواړم چې د رابين هوډ نفر شم. زه غواړم ولسوال سره جګړه وکړم – او له شاهزاده جان سره هم.

ويل وويل: ته ډير ځوان يې، شايد، کله چې ته لوې شې بيا...

[1] Will Scarlet

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک وویل: زه ځوان نه یم، زه ۱۴ کلن یم، زه کوچنی یم، خو زه قوي یم. زه زر زده کړه کولی شم. زه دلته هیڅ نه لرم. لطفاً ما د ځان سره بوځه.

نو ویل سکارلیټ ځوان میچ رابین هوډ ته وروست.

په هغه کال، ډیر ځوانان ځنګل ته راغلل. دوي ټولو د ولسوال او نفرو په اړه ډیرې کیسې لرلې. رابین او ویل سکارلیټ دوي ته ور زده کړل چې څنګه توره او غشی استعمال کړي. خو میچ، د ځنګلي زوې، همیشه د رابین یو له ښه او شجاع نفرو څخه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابين هوډ له کوچني جان سره ګوري

Our drink is strong, our food is good

Come in and drink with Robin Hood.

When Robin Hood is not at home

Come in and drink with little John.

(An old drinking song)

(یوه پخوانۍ د څښاک سندره)

د کليسا د جنګ څخه وروسته په لومړيو هفتو او مياشتو کې، رابين او د هغه نفرو سخت کار کاوه. دوي ونې پرې کړې او د ځنګل په مرکز کې يې کورونه جوړ کړل. دوي د لرګيو څخه غشي جوړ کړل او هوسۍ څخه ډوډۍ. دوي له کليوالو ډوډۍ او شيدې اخيستې.

ځيني وخت رابين خوښول چې خپل نفر پريږدي، او د کارنامو لپاره لاړ شي. د مني په يو ښه سهار کې، هغه او د هغه ملګری ويل سکارليټ وخته ويښ شول.

رابين وويل: دا يوه ښايسته ورځ ده، زه فکر کوم چې د قدم وهلو لپاره به سيند ته لاړ شم. آيا ته له ما سره ځې؟

ويل ځواب ورکړ: زه غواړم چې نوي غشي د خپل کمان لپاره جوړ کړم، خو زه به تا د پل څنګته په غرمه کې وګورم.

نو رابين ويل پريښود او په ګړنديو قدمونو د کوچني پل او سيند په طرف روان شو. رابين د پل په منځ کې ودريد، او پورته ونو طرف ته يې وکتل.

هغه فکر کوه: د مينې رنګونه ښايسته دي، بيا هغه لاندې اوبو ته وکتل. هغه فکر کوه: زه به يو ماهي د غرمې لپاره ونيسم، ويل او زه کولی شو چې اور جوړ کړو. زه لږه ډوډۍ لرم، او هلته په ونو کې ميوه شته. مونږ به ډير ښه خوراک وکړو. آه، دا ډير ښه ژوند دی!

ناڅاپه چا د هغه شاته وويل: ښه، کوچنۍ سړيه! آيا ته ټوله ورځ دلته دريږې؟ زما له لارې لرې شه!

رابين مخ واړوه. د خبرو والا يو غټ سړی وو، تقريباً دوه متره لوړ. هغه فکر وکړ: اوس دا به يو په زړه پورې کارنامه وي، هغه سړی ډير قوي وو. آيا زه کولی شم هغه سره جنګ وکړم – او وګټم؟ هغه له پل څخه ونه خوريد.

هغه غټ سړي ته وويل: زه دلته اول راورسيدم، نو ته مجبور يې چې انتظار وکړې. زه فکر کوم چې زه به يو څه ماهيان ونيسم. بيا، شايد، زه ستا له لارې لرې شم.

غټ سړی د پل په سر روان شو.

هغه وويل: زه به صبر ونه کړم! او ته به ماهيان نه نيسې، ته به جنګ کوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي هلته جنګ وکړ، د پل په منځ کې. رابین نشو کولی چې وګټي. هغه وروسته له یو یا دوه دقیقو پوه شو. سړی ډیر تیز نه وو خو هغه ډیر قوي وو. نو رابین زر د پلان فکر وکړ.

هغه د غټ سړي سر ته وکتل، او چیغه یې کړه: وګوره، د ولسوال نفر!

غټ سړي مخ واړوه. رابین زر هغه سړی پښې ته ډیر سخت وواهه. غټ سړی ډیر په غوسه وو – خو هغه ونه غورځید. هغه رابین ته لغته ورکړه، او رابین له پل څخه اوبو ته وغورځید.

غټ سړي وخندل.

هغه وویل: ما جګړه وګټله، راشه، زه به تاسره مرسته وکړم.

هغه له پل څخه لاندې اوبو ته وکتل. خو رابین هلته نه وو.

سړي غږ کړ: ته چیرې یې؟ آیا ته ښه یې؟

رابین ناڅاپه له اوبو څخه راووت. هغه له پل څخه لرې وو.

رابین وخندل: شاید تا جګړه ګټلې وي، خو تا زه ونه نیولم!

هغه وچې ته راووت. بیا ویل سکارلیټ راورسید.

هغه وویل: څه پیښ شوي، رابینه؟ آیا دې نفر ته اوبو ته اچولی یې؟ هغه به اوس له ماسره جګړه کوي!

رابین وخندل: نه! نه! راځی چې ملګري شو. نو ستا نوم څه دی، ملګریه؟ او ته زما په ځنګل کې څه کوې؟

غټ سړي ځواب ورکړ: ستا ځنګل؟ دا ستا ځنګل ندی! زه دلته راغلی یم چې شجاع رابین هوډ پیدا کړم. خو اول، زه فکر کوم، چې زه به تا یو ځل بیا اوبو ته واچوم!

رابین هوډ وویل: ملګریه، تا رابین هوډ پیدا کړ، او هغه د اوبو ته واچوه. لطفاً، بیا داسې ونه کړئ!

سړي وپوښتل: څه! آیا ته ریښتیا رابین هوډ یې؟ زه ډیر خوشحاله یم. زما نوم کوچنی جان[1] دې او زه غواړم چې ستا نفر اوسم.

رابین وخندل: (کوچنی) ستا لپاره ښه نوم دی، ځکه چې ته ډیر کوچنی یې – یوازې د یوې کوچنی ونې په شان! مونږ به همیشه تاته کوچنی جان وایو. راځه زمونږ د ځنګل کورته، کوچنی جانه!

[1] Little John

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابین هوډ د لي له ښاغلي ریچارډ سره مرسته کوي

مني لاړو او ژمی راغلو. یوه یخه خو لمرینه ورځ د جنوري په میاشت کې، یو سړی د لوی شمال سرک څخه په یو زوړ آس ورو راغی. د ځنګل په ونو واورې د ژمي لمر ته ځلا کوله. خو سړي ځنګل ته نه کتل. هغه یوازې خپل مخ ته سرک ته کتل.

هغه ناڅاپه واوریدل: دا یو ښایسته سهار ده، ولې ته دومره خپه یې؟

ویل سکارلیټ له ځنګله راووت او د سرک په منځ کې ودرید. سړي پورته وکتل.

هغه وپوښتل: تاسو څوک یاست؟

ویل وویل: زما نوم ویل سکارلیټ دی، او زه د رابین هوډ نفر یم. آیا ته ډار شوی یې؟

سړي وویل: نه، زه نه یم ډار شوی، زه پوه یم چې رابین هوډ د غریبانو سره مرسته کوي. خو هغه له ما سره مرسته نشي کولی.

ویل سکارلیټ وخندل:

شاید مونږ تاسو سره مرسته وکړای شو، او شاید ونه کړای شو. رابین هوډ او نفر یې خطرناک کارونه خوښوي. راشه او زمونږ سره خوراک وکړه! مونږ ته خپل مشکل ووایه!

نو ویل سکارلیټ سړی رابین هوډ ته بوتلو. لومړی، دوي هغه ته ډوډۍ او څښاک ورکړل. هغه ډېر وږی وو.

سړي وویل: تاسو په خپل ځنګل کې ښه خوراک کوې، تاسو د پاچا په څیر خوراک کوې – شاید بهتر له هغه! مننه له دې ښې ډوډۍ څخه.

بیا هغه ودرید.

رابین وویل: صبر وکړه، آیا ته مونږ ته یو څه ستا د ماښام ډوډۍ په بیه نه راکوې؟ له کمو سروزرو سره زه کولی شم چې ډیرو غریبو کورنیو سره مرسته وکړم.

بیا سړي د لږ وخت لپاره څه ونه ویل.

بیا هغه وویل: زه زما په کڅوړه کې سره زر لرم – شپږ سوه پونډه! خو زه هغه تاسو ته نشم درکولی. زه د مریم کوڅې کلیسا ته ځم. دا پیسې د راهب لپاره دي.

ویل وویل: هغه ډیرې روپۍ دي، او کلیسا ډیرې روپۍ لري.

سړي وویل: هغه زما مشکل دی، راهب ډېر غواړي – پنځه سوه پونډه – او زه هغه ته سږ کال نشم ورکولی. شاید هغه بل کال ته منتظر شي، خو زه فکر نه کوم. زه فکر کوم چې هغه زما ځمکې وغواړي – او زما کور هم.

رابین وویل: هو، راهب حریص سړی دی. مونږ ته خپل نوم ووایه، ملګریه، او مونږ ته خپله کیسه هم ووایه. شاید مونږ تاسو سره مرسته وکړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سړي خپله کیسه وویله. د هغه نوم د لي ریچارډ[1] وو، او د هغه زوې یو نفر په جګړه کې وژلی وو. شوی مړ شو، او د ناتینګام ولسوال هلک ترې نیولی وو.

رابین وویل: آه، ولسوال، بل حریص سړی! آیا هغه د پیسو غوښتنه وکړه؟

د لي ریچارډ ځواب ورکړ: ته هغه ښه پیژنې، هغه وویل، (ماته زر پونډه راکړه کنه زوې به دې ووژنو!) زه یو پیسه داره سړی نه یم، خو د مریم کلیسا راهب زما پیسې ورکړې. دا تیر کال پیښ شول. اوس زه مجبور یم چې راهب ته پیسې ورکړم. هغه یو زرو او سل پونډه غواړي – او زه یوازې هغه ته شپږ سوه پونډه ورکولی شم.

رابین وخندل: زه کولی شم تاسو ته پیسې درکړم. خو اول، راځه یو څه وکړو... شاید ښه راهب بد سړی نه وي. هغه ته ووایه چې ته پیسې نه لرې. له هغه وغواړه چې تا سره مرسته وکړي. له هغه وغواړه چې بل کال ته په تمه شي!

بیا رابین خپلو نفرو ته مخ واړوه.

څوک ددې سړي سره ځي او د راهب ځواب اوري؟

کوچني جان وویل: زه به د هغه سره لاړ شم، زه یوې کارنامې ته چمتو یم!

[1] Richard of Lee

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلی ریچارډ راهب ته پیسې ورکوي

په بله ورځ دولس بجې، د مریم کلیسا راهب په خپله ښایسته کوټه کې ناست وو. او هلته په میز باندې د سروزرو کڅوړې وې. هغه ورسی ته لاړو اوباندې یې وکتل.

هغه فکر وکړ: ما چې وکتل، د لي ریچارډ په سم وخت کې هلته ولاړ وو، خو د هغه جامې زړې دي، او د هغه آس زوړ وو. ښه! زه فکر کوم چې زما ملګری، ولسوال، سم وو. ښاغلی ریچارډ زما یو زرو او سل پونډه نشي راکولی. نو دغه ماښام، زه به د هغه د کور او ځمکو صاحب شم!

څو دقیقې وروسته، ښاغلی ریچارډ او کوچنی جان کوټې ته ننوتل.

راهب وویل: ښه، ته دلته په سم وخت کې راغلې. آیا تا زما پیسې راوړي؟

ښاغلي ریچارډ شروع کړه: زما مشره راهبه، ته د کلیسا مشر یې. زه هیله لرم چې ته مهربانه اوسې. راتلونکی کال...

راهب چیغه کړه: بس! د نور وخت لپاره غوښتنه مکوه! زه خپلې پیسې اوس غواړم ماته یو زرو او سل پونډه راکړه، یا ستا کور او ځمکې به زما کیږي نن ماښام!

بیا ښاغلي ریچارډ د سروزرو شپږ کڅوړې د راهب په میز کېښودې. او هغه په خاموشۍ وویل: دلته شپږ سوه پونډه شته دي، زما مشره، په هره کڅوړه کې سل پونډه دي. دا زما لپاره ډیرې پیسې دي. راتلونکی کال زه هیله مند یم...

راهب بیا چیغه کړه: راتلونکی کال، یا راتلونکې میاشت، یا راتلونکې هفته نه! زه خپلې ټولې پیسې نن غواړم! آیا ته زما پیسې لرې – هو یا نه؟

بیا کوچني جان پنځه کڅوړی په میز کېښودې.

هغه وویل: دلته دي، زما مشره، پنځه سوه نور پونډه. دا ښه سړی او د هغه کورنۍ به نن شپه په آرامه خوب وکړي.

راهب پیسو ته وکتل، او بیا یې کوچني جان ته وکتل. د راهب مخ سور شو. هغه خپله خوله خلاصه کړه بیا یې بنده کړه. هغه به څه ویلي وای؟

وروسته، په ځنګل کې، کوچنی جان ټوله کیسه رابین هوډ او د هغه نفرو ته وویله.

کوچنی جان وویل: د راهب مخ ډیر په زړه پورې وو، هغه په غوسه وو، خو هغه مجبور وو چې پیسې واخلي!

دوي ډیر وخندل، خو رابین وویل:

دا یوه ښه کارنامه وه. خو راهب به ولسوال ته ووایي، او ولسوال به هم غوسه شي. دوي خطرناک خلک دي. ښاغلی ریچارډ باید ډیر احتیاط وکړي.



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناتینګام ولسوال او اغلې ماریان

هر کال په اوړي کې، د ماریان پلار یو غټ جشن نیولو. مشران او مشرانې او د کلي خلک راتلل. دوي خوړل او څښل. سږ کال، د ناتینګام ولسوال هم راغلی وو، د خپلو پنځه سوه نفرو سره. هغه ماریان ته په ځیر کتل.

هغه فکر کاوه: هغه ډیره ښایسته ده، او رابین هوډ د هغې سره مینه لري. زه پوهیږم چې هغه به نن راشي. بیا زما نفر کولی شي هغه ونیسي.

موسیقي شروع شوه او خلکو نڅا کوله. یو سړی ماریان ته ورغلو او د هغې سره یې خبرې کولې. هغې موسکا وکړه او خپل لاس یې ورکړ.

ولسوال پورته ودرید او خپلو نفرو ته یې په لوړ غږ وویل: هغه هلته دي! هغه رابین هوډ دی! هغه ونیسئ!

د ولسوال نفرو خپلې توري راوباسلې او د نڅا کوونکو په لور روان شول. ناڅاپه لس نورو نڅا کوونکو خپلې توري راوباسلې. البته، دوي، د رابین هوډ نفر وو، او یوه لویه جګړه شروع شوه. د رابین نفر د ولسوال نفرو په پرتله ښه جنګیالي وو. ماریان هم غوښتل چې جنګ وکړي، خو د هغې پلار هغه منع کړه.

ماریان، ته څه کوې؟ هغه توره لاندې کیږده! زه رابین په اړه خپه یم – بل هیڅوک به له تا سره واده ونه کړي. ته یوازې جنګ ته لیواله یې!

ولسوال د ماریان د پلار خبرې واوریدې او موسکا یې وکړه.

هغه فکر وکړ: اغلې ماریان په ریښتیا هم ډیره مینه ناکه ده، د هغې پلار غواړي چې هغې ته بل خاوند پیدا کړي؟ ښه. زه به له هغې سره واده وکړم، بیا به هغه له ما سره مرسته وکړي چې رابین هوډ پیدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسوال لیدنه

په بله ورځ، ولسوال د ښاغلي فیټزوالټر[1] کور ته له ۲۰ آس سپرو نفرو سره ورسید. ښاغلي فیټزولټر دوي له ورسی ځخه ولیدل. هغه خوشحاله نه وو.

هغه خپلې لور ته وویل: هغه غواړي چې د پرون جګړې په اړه وغږیږي، او نږدې وو چې تا هم جنګ کړای وای! لطفاً خپلې کوټې ته لاړه شه. زه به له هغه سره خبرې وکړم.

ماریان وویل: پلاره، زه نه غواړم چې د ولسوال سره وغږیږیم، خو زه به د دروازې ځخه خبرې واورم!

ماریان کوټه پریښوده، او یوه شیبه وروسته، ولسوال راننووت.

ښاغلي فیټزوالټر شروع کړه: زما مشر ولسواله، زه د پرون جګړې په اړه ښښنه غواړم، خو ستا نفرو...

ولسوال وویل: نه، نه، زه نه غواړم د هغه په اړه وغږیږم، هغه د فیټزوالټر په لاس کې لاس کیښود او موسک شو. زه غواړم چې ستا د لور په اړه ستا سره وغږیږم، اغلی ماریان.

ښاغلي فیټزوالټر په ناخوښی کې وویل: آه، ماریان، ماریان ښه انجلی ده خو هغه همیشه زما خبرو ته غوږ نه ږدي. شاید یوه ورځ یو خاوند...

ولسوال په موسکا وویل: او هو! ښه، زه په ښځې پسې ګرځم، او زه غواړم ستاسو لور سره واده وکړم. زه یوه قوي ښځه خوښوم – او ماریان هم ډېره ښایسته ده. زه به یو ښه خاوند اوسم. زه ځمکې لرم، پیسې – او مهم ملګري.

د ماریان پلار وویل: زما مشره، زه به څه ووایم؟ هغه اوس ډیر خپه وو. هغه په دې پوهیده – ماریان غواړي چې د رابین سره واده وکړي نه د بل چا سره. ته ډیر مهربانه یې. زه به له ماریان سره خبرې وکړم خو...

ولسوال وویل: زه به سبا بیا راشم، په یاد ولره – شهزاده جان زما ښه ملګری دی. هغه به ستا ملګری هم شي. په غور فکر وکړه!

هغه ماښام، ماریان او پلار یې د ډیر وخت لپاره خبرې وکړې د رابین، ولسوال او شهزاده جان په اړه.

د هغې پلار وویل: ماریان، ولې ته د ولسوال سره واده نه کوې؟ هغه مهم امیر دی، او هغه د شهزاده جان ملګری دی. زه د شهزاده جان ځخه ډاریږم. لطفاً د ولسوال سره واده وکړه، او رابین فیټزوت هیر کړه.

ماریان د خپل پلار لاس ونیو. پلاره، زه ډیره ښښنه غواړم چې تاته مې ډیرې ستونزې راوړی. زه به د ولسوال سره واده ونه کړم، خو هغه به په ما ډیر غوسه شي، نه په تا. واوره، زه به سبا وختي کور پریږدم او زما تره سره به اووسم! تولې کوټې وګوره. ډیر په غوسه اووسه. بیا ولسوال به فکر وکړي چې ته په هیڅ نه یې خبر!

د هغې پلار وویل: ته سمه یې، ماریان، ته به یا د ولسوال سره واده کوې او یا له دې ځایه ځې. بیا نو زما د ورور کور ته لاړه شه. خو څوک به له تا سره ځي؟

ماریان ځواب ورکړ: ښه کشیش ټک[2] به نن شپه دلته وي. هغه به له ما سره مرسته وکړي.

[1] Lord Fitzwalter
[2] Friar Tuck

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې پلار وویل: هغه چاغ کشیش؟ هغه عجیبه کشیش دې. هغه د راهبانو لپاره ښه جګړه کوله. خلک وایي چې د مریم کلیسا راهب له هغه څخه کرکه لري. او کشیش مجبور ده چې کلیسا پریږدي.

ماریان ځواب ورکړ: کشیش ټک هغه راهب نه خوښوي ځکه چې هغه له کلیوالو ډېرې روپۍ اخلي، کشیش ټک وایي چې کلیسا باید له غریبانو سره مرسته وکړي.

د هغې پلار وویل: امم، راهب ډېر ښه ژوند کوي. هغه حریص سړی دی. کشیش ټک هم حریص دی – هغه له لسو نفرو څخه ډېر خوراک کوي! خو هغه ډېر شجاع او قوي سړی دی. هو، کشیش ټک سره لاړه شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماریان شیروډ ځنګل ته لاړه

په بل سهار ډیر وخته، ماریان د هلکانو کالي او خولی واغوسته او کشیش ټک یې ویښ کړ. ماریان خپل تیر او کمان را واخیستل. بیا دوي کور پریښود او په لوی شمال سرک باندې د ځنګل په لور روان شول.

وروسته له څو ساعتو، کشیش ناڅاپه له سرک ووت او د ونې لاندې کیناست.

هغه وویل: لطفاً راځه چې بس یې کړو، زما اغلې، مونږ هیڅ ناسته نده کړې او زه ډیر وږی یم!

ماریان وخندل.

هغې وویل: زه ښښنه غواړم، ته سم یې، مونږ به اوس خوراک وکړو. همدلته اوسه. زه به خپل تیر او کمان را واخلم، او یو څو حیوانات به ونیسم. مونږ کولی شو دلته په ځنګل کې دوې ونیسو.

ماریان کشیش پریښود او د ځنګل د ونو په منځ کې په خاموشی روانه شوه. هغې یوه هوسۍ ولیده. په ډیرې خاموشی، هغې یو غشی را وباسو او په کمان کې یې کیښود.

د هغې شاته یو سړي وویل: هلکه، همدلته ودریږه! بیا سړي په ډیر لوړ غږ خبرې وکړې. هوسۍ ټوپ واچوه او د ونو په منځ کې وتښتیده. ماریان ډیره په غوسه وه. هغې نفر ته مخ واړوه هو هغه غټه خولی اخوستې وه. هغې د هغه مخ ونه لیدو.

سړي وویل: ښه، هلکه، آیا ته نه پوهیږې چې د پاچا هوسۍ نشې خوړلی؟ د ناټینګام ولسوال دوه نفره ووژل ځکه چې دوي د پاچا هوسۍ نیولې وه.

ماریان وویل: زه له ولسوال څخه نه ډاریږم، او ستا څخه هم. اوس لاړ شه – یا جنګ وکړه!

سړي وخندل: له تا سره جګړه وکړم؟ خو ته یوازې یو هلک یې! ښه، ته نیزه لرې او زه هم یوه لرم. زه به له تا سره جنګ وکړم – په یو لاس!

ماریان ښه جګړه وکړه. هغه قوي او تیزه وه. یوازې په یو لاس، سړی نشي کولی چې وګټي. هغې هغه څو ځله سر او ملا ته وواهه.

هغه وخندل: بس، بس! ته ځوان یې، خو ته یو ښه جنګیالی یې. هغه خپله خولی لرې کړه. زه رابین هوډ یم. آیا ته به له ما سره لاړ شې، او زما نفر به شې؟

ماریان وویل: رابین! او خپله خولی یې هم لرې کړه. هغې خپل مینه ناک سره ویښتان شاته وغورځول.

رابین ځواب ورکړ: ماریان! ته دلته څه کوې، په ځنګل کې؟ آیا له تا سره څوک شته؟

ماریان وویل: زه له یو ملګري سره یم، کشیش ټک، او هغه ډیر وږی دی! هوسۍ د هغه لپاره وه. خو زه فکر کوم چې هغه به خوشحال شي چې د رابین هوډ په میز ډوډۍ وخوري.

هغه او رابین دواړه د کشیش ټک لپاره بیرته سرک ته لاړل. دوي هغه ته غږ وکړ خو چا ځواب ورنکړ.

ماریان وویل: بیچاره سړی! شاید هغه په ما پسې ګرځي. شاید هغه فکر کړی وي چې د ولسوال نفرو زه نیولې یم!



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغې رابین ته د خپل پلار او ولسوال کیسه وکړه.

هغې وویل: رابینه، زه اوس کور ته نشم تللې، زه غواړم چې له تا سره دلته اووسم، په شیروډ ځنګل کې. کشیش ټک به زمونږ واده وکړي. راځه چې هغه پیدا کړو. شاید هغه وغواړي چې له مونږ سره ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابین هوډ او کشیش ټک

دوي په هغه ورځ کشیش ټک پیدا نکړ، نو ماریان له خپل تره سره پاتې شوه. هغه هره ورځ ځنګل ته راتلله.

هغې رابین ته وویل: یو بل کشیش زما د تره په کور کې اوسیږي، خو هغه ضعیف سړی دی. هغه نه غواړي چې زمونږ واده وکړي ځکه چې هغه ډاریږي. او ولسوال به ما زما د تره په کور کې پیدا کړي. اوه، کشیش ټک چیرته دې؟ یوازې هغه زمونږ مرسته کولی شي.

◆

بیا یوه ورځ، د ماریان او رابین د جنګ څخه یوه میاشت وروسته، ویل سکارلیټ دوي ته یوه په زړه پورې کیسه وکړه.

هغه وویل: د ریورډیل[1] د کلي خلک د یو چاغ کشیش په اړه خبرې کوي، دوي وایي چې هغه کلي ته یوه میاشت مخکې راغی. اوس هغه د سیند په غاړه اوسي. د یوې روپۍ لپاره، هغه خلک له سیند څخه د خپلې کیشتۍ په واسطه پورې کوي. کله چې غریب خلک پیسې نشي ورکولی، هغه دوي په خپل شاه باندې پورې کوي! خلک وایي چې هغه ښه ډوډۍ او جنګ خوښوي. زه فکر کوم، هغه ډیر عجیب کشیش دی.

ماریان وخندل: او زه فکر کوم چې هغه کشیش ټک دی، رابینه، لطفاً ریورډیل ته لاړ شه او هغه بیرته راوله.

رابین او ویل سکارلیټ د ماریان سره د هغې تره کور ته لاړل او بیا د ځنګل له لارې د ریورډیل کلي ته لاړل.

رابین وویل: ویل، همدلته صبر وکړه، ماریان وویل چې کشیش قوي او شجاع سړی دی. زه به هغه وآزمویم!

بیا رابین د سیند په لور روان شو او شاوخوا یې وکتل. هغه د کشیش کوچنی کور ولیدو، او د هغه کیشتۍ.

هغه غږ کړ: ښه کشیشه، ته چیرته یې؟ آیا ته به ما په خپله کیشتۍ کې بوځې؟ زه پیسې لرم او تاته به یې درکړم.

کشیش ټک له کوره را ووت او په کشتۍ کې سپور شو. هغه زر د سیند خواته راغی.

کشیش وویل: ستا پیسې اول راته وښایه، بیا ته کولی شې چې کینې. هغه له کیشتۍ څخه وچې ځمکې ته ټوپ کړ او خپل لاسونه یې ونیول. رابین هغه ته یوه روپۍ ورکړه او دکشتۍ په لور روان شو. خو هغه سپور نشو. هغه کشتۍ ټیله کړه او کشتۍ ورو، ورو لرې شوه، د سیند له غاړې.

کشیش ټک چیغه کړه: احمق انسانه! ته څه کوې؟ رابین خپله توره راوباسله.

هغه وویل: کشیشه، اوس مونږ کشتۍ نه لرو، ما په خپله شا کړه او له سیند څخه مې پورې کړه شاید زه تا ونه وژنم!

[1] River Dale



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشیش هیڅ ونه ویل. هغه د رابین توري ته وکتل او بیا اوبو ته ور داخل شو. رابین د هغه شاته ورټوپ کړ او دوي ورو، ورو د سیند منځ ته لاړل. بیا کشیش ناڅاپه ودرید، ودرید، او رابین یې اوبو ته ګوزار کړ.

کشیش ټک کولی شول چې د رابین څخه تیزه لامبو ووهي. هغه له اوبو ووت او غږ یې وکړ:

دلته راشه، ملګریه، او له ما سره جنګ وکړه. زه توره نه لرم ځکه چې زه راهب یم. زه مې په دوو لاسونو نفر وژلی شم!

بیا ویل سکارلیټ له ځنګله د رابین له لسو نفرو سره را ووت.

هغه غږ کړ: رابینه، آیا ته خووګ شوې؟ رابین له سیند څخه را ووت.

رابین وویل: کشیشه، اوس به ته څه کوې؟ آیا ته به له مونږ سره جګړه وکړې؟

کشیش ټک ځواب ورنکړ. هغه په زوره غږ کړ: هنټر! بایټر! دلته راشی، زما نفرو!

دوه لوې سپي له ځنګله راووتل.

کشیش ټک وویل: زما سپي او زه چمتو یو چې له تا سره جګړه وکړو! خو اول ماته ووایه چې، آیا ته رابین هوډ یې؟

رابین وویل: زه یم، اغلې ماریان زه راولیږلم. هغه ښه ده – ته یو ښه جنګیالی یې! آیا ته به راشې او په ځنګل کې ژوند وکړې؟ آیا ته به زمونږ کشیش شې؟

په بله ورځ، کشیش ټک د رابین او ماریان واده د ریورډیل په یوه وړه کلیسا کې وکړ. بیا هغه خپل د سیند د غاړې کور پریښود. اوس هغه د رابین یو نفر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه راهبان او د سروزرو کڅوړې

بل ژمی راغې او لاړو. هلته ډېره واوره په ځمکه نه وه او خلکو کولی شو چې د شمال لوې سرک استفاده کړي.

رابین کوچني جان او ویل سکارلیټ ته وویل: یوه ورځ، د لي ریچارډ به د راهب پیسې مونږ ته راکړي، خو شاید مونږ وکړای شو چې پیسې د کلیسا څخه بیرته واخلو.

کوچني جان ځواب ورکړ: رابینه، دا ښه پلان دی، زه به امیر راهب پیدا کړم او د ځنګل ډوډۍ ته به یې دعوت کړم. بیا هغه کولی شي مونږ ته پنځه سوه پونډه بیرته راکړي. دا زمونږ د ځنګل ښې هوسۍ، سپینه ډوډۍ او ښه شرابو ته ګران ندي!

◆

په بل ماښام، کوچنی جان سرک ته لاړو او د غلو په همیشني ځای کې یعنی د ونې شاته ودرید. هغه ډېر په انتظار پاتې نشو. دوه راهبان له دوو سپینو او ښکولو آسونو سره په سرک کې ول. دوو نفرو قیمتي کالي اغوستي ول. دوي ډار شوي وو، او دوي کله، کله ځنګل ته کتل.

کوچنی جان د ځنګل منځ څخه را ووت او د سرک منځ کې ودرید.

هغه غږ کړ: ماښام پخیر، ورونو، آیا تاسې د مریم کلیسا ته ځې؟

دوي خپل آسونه ودرول او ځوان راهب ځواب ورکړ: هو، مونږ ځو چې راهب وګورو. آیا مونږ کلیسا ته نږدې یو؟ مونږ نه غواړو چې په دې سرک د شپې پاتې شو. خلک وايي چې غله په دې ځنګل کې اوسیږي!

کوچني جان وویل: زه د راهب نفر یم، زه تاسو ته د کلیسا ښه لاره درښودلی شم. ما پسې راشئ!

نو دوو نفرو کوچنی جان د ځنګل تر منځه تعقیب کړ. بعد له څو دقیقو دوي لومړی دود او بیا اور ولید. د رابین نفر هلته ول.

راهبانو چیغه کړه: مونږ چیرته یو؟ دا سړي څوک دي؟ دا کلیسا نده!

رابین وویل: ماښام پخیر، ورونو! مه ډاریږی، مونږ تاسو ته ضرر نه رسوو. مونږ هیله مند یو چې تاسې مونږ سره د شپې ډوډۍ وخورئ!

دوه راهبان ډېر خپه ول خو دوي نشو ګولی چې لاړ شي. نو دوي له آسونو ښکته شول او د رابین په میز کیناستل. د رابین نفرو دوي ته غوښه، شراب او ډوډۍ راوړه. ډوډۍ ډېره ښه وه. خو راهبانو نشوای کولی چې وخوري. دوي ډېر ډار شوي وو.

رابین وپوښتل: وږي نه یاست؟ لطفاً ډېر وخورئ ځکه چې تاسو به ددې ډوډۍ روپۍ راکوئ. د کلیسا له لږو سروزرو سره، مونږ به د راهب له کلیوالو سره مرسته وکړو. د راهب په ځمکو کې ډېرې غریبې کورنۍ دي.



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرپو مخونه ډیر سپین وو. دوي ځواب ورکړ: مونږ یوازې غریب راهبان یو، او مونږ پیسې نه لرو. لطفاً مونږ مه وژنۍ!

کوچنی جان د راهبانو د آسونو په طرف لاړو او د دوي کڅوړې پې ولیدې. بیا هغه رابین هوډ ته غږ کړ:

دوي سم دي، رابینه. دلته هیڅ پیسې نشته د دوي په کڅوړو کې.

یو نفر وویل: مونږ تاسو ته وویل، لطفاً – ډیره ناوخته شوې مونږ غواړو چې کلیسا ته ورسیږو. زمونږ مشر راهب مونږ ته په تمه دی.

رابین ځواب ورکړ: صبر وکړې! تاسو ډیر ښه کالي اغوستي تاسو به د ډوډۍ پیسې پرې ورکړې. هغه وباسې!

سړي وپوښتل: څه؟ دلته، په ځنګل کې؟ شپه ډیره یخه ده!

رابین تکرار کړه: هغه وباسې، یا تاسې له ما غواړۍ چې له تاسو سره مرسته وکړم؟ هغه خپله توره راوباسله. دوو نفرو ورو، ورو خپل کالي وباسل.

غلو راهبانو ته وکتل او په خندا شول... د دوي کالیو لاندې، هر یوه پنځه د پیسو کڅوړې لرلې.

کوچني جان وویل: هغه ته وګورې، مونږ دلته څه ګورو؟ اهه! هلته د دوي په کڅوړو کې سره زر دي! سل پونډه په هره کڅوړه کې.

رابین هوډ وویل: مونږ به دا سره زر واخلو، دا ستاسو ندي ځکه چې تاسې پیسې نه درلودې. شاید چا هغه پیسې هلته کیښودلې وي! اوس لاړ شې او ښه راهب ته ووایې. رابین هوډ زر پونډه پیدا کړل!

دوو نفرو خپل کالي بیرته اغوستل.

رابین وویل: نه، نه، تاسو به خپل کالي هم مونږ ته راکوې – او ستاسو آسونه. تاسو کولی شې زمونږ زاړه کالي واغوندې، او کلیسا ته لاړ شې.

دوه نفرو منډې کړې او د رابین هوډ نفرو تر ډیره وخته خندل.

کوچني جان وویل: زه خوښوم چې د راهب مخ سبا ته وګورم! دا ډیرې روپۍ دي د هغه په پرتله چې مونږ ورکړې وې. هغه به خوشحاله نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لي ریچارډ بیا ځنګل ته راځي

په بله ورځ، ښاغلي ریچارډ راورسید.

هغه وویل: رابینه، زما ښه ملګریه، ما ستا پیسې راوړي، او ما سل غشي ستا او ستا نفرو لپاره راوړي. زما ښځې او د هغې ملګرو جوړ کړي.

رابین ځواب ورکړ: ته یو ښه سړی یې، مونږ د غشو په اړه ډېر خوشحاله یو، خو زه به ستا سره زر وانخلم. رهب هغه پیسې تیر کال اخستې وې – او پرون کلیسا هغه بیرته ماته راکړې!

هغه ښاغلي ریچارډ ته د دوو راهبانو او د دوي کالیو لاندې کڅوړو په اړه وویل.

رابین وویل: اوس، زه به تا او ستا اغلې ته یو څه درکړم. زه به ستا ښځې ته دا ښایسته سپین آس ورکړم. او ستا لپاره، زه ښه کالي لرم!

دوه راهبان په بله ورځ کلیسا ته ورسیدل او خپله کیسه یې وکړه. راهب ډېر غوسه وو.

هغه وویل: رابین هوډ به اوس خاندي، خو یوه ورځ، ولسوال او زه به هغه ووژنو.



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رابین هوډ او د سروزرو غشی

هره ورځ، د ولسوال نفرو نوې کیسې د رابین هوډ په اړه راوړلې. شاهزاده جان هم دا کیسې اوریدلې.

هغه ولسوال ته وویل: دا سړی رابین هوډ یوازې پنځوس نفره لري، ته پنځه سوه نفر لرې خو هغه نشې نیولی. خلک پر تا خاندي! ته به څه کوې؟

ولسوال وویل: زه بل پلان لرم، زما مشره، زه به د تیر او کمان مسابقه په لار واچوم. ګټونکي ته به د سروزرو غشی ورکړو. زه پوهیږم چې رابین هوډ به راځي. ټول وایي چې هغه یو ښه غشی ویشتونکی ده په انګلستان کې. هغه به مسابقه ګټي او د سروزرو غشی به اخلي. بیا به زه هغه ونیسم.

◆

رابین او د هغه نفرو د مسابقې په اړه واوریدل. ولسوال سم وو – دوي غوښتل چې لاړ شي.

کوچنې جان وخندل: رابینه، ته به په کور کې پاتې شې، مونږ غواړو چې وګټو، او مونږ د ولسوال نفرو څخه ښه یو. خو ته له مونږ ټولو څخه ښه غشی ویشتونکی یې!

ماریان وویل: متوجه اوسه، رابینه، ولسوال خطرناک سړی دی. هغه پوهیږي چې ته به لاړ شې. هغه یوازې غواړي چې تا پیدا کړي او ووژني!

رابین وویل: زه پوهیږم، دا یوه ښه کارنامه ده. زه به مسابقه وګټم، خو ولسوال به ما ونه نیسي...

ماریان وویل: بیا نو زه هم راځم، زه به بیا د هلکانو کالي واغوندم، او زما د هلکانو خولی. ولسوال به ما ونه پیژني، او زه به په مسابقه کې لوبه وکړم. شاید زه د سروزرو غشی وګټم، او ته نه!

◆

د مسابقې په ورځ، ډیر خلک راغلي وو. ځینو لوبه کوله او ځینو ورته کتل. د ولسوال سل نفره هم هلته وو.

ولسوال خپلو نفرو ته وویل: د دې مسابقې ګټونکی به رابین هوډ وي، هغه به راځي چې د سروزرو غشی له ما څخه واخلي – بیا به تاسو هغه ونیسی. خو هغه مه وژنی. شاهزاده جان غواړي چې لومړی له هغه سره وګوري!

مسابقه شروع شوه. یو سړی ډیر ښه وو.

ولسوال فکر کاوه: هغه سړی رابین هوډ ده. خلکو ویل چې هغه زیرک ده. خو مونږ به هغه په آسانی ونیسو. هغه غټ سړی کوچنی جان او هغه چاغ سړی کشیش ټک ده. مونږ به دوي هم ونیسو. خو هغه هلک څوک ده؟ هغه له تیر او کمان سره ډیر ښه ده.

مسابقه ختمه شوه او رابین ګټونکی وو. هغه ولسوال ته ورغی او موسکا یې وکړه.



ژباړن: شبیر نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وویل: زه فکر کوم چې، غشی زما دی، ولسوال موسکا وکړه او غشی یې هغه ته ورکړ. بیا رابین مخ واړوه.

ولسوال خپلو نفرو ته جیغه کړه: هغه اوس ونیسی!

خو د رابین شل نفرو خپلې خولی لرې کړې او د رابین شاته ودریدل. یوه غټه جګړه شروع شوه. د رابین نفرو او د ولسوال جګړه تر ډیره روانه وه. ماریان هم په دې وخت کې جګړه کوله، او هغې ښه جګړه وکړه. د ولسوال ډیر نفر په هغه ورځ مړه شول. ولسوال ډیر په غوسه وو.

هغه چیغه کړه: د شهزاده جان نفر چیرته دي؟ دوي ناوخته کړه، او رابین هوډ یې ګټي!

بیا شهزاده جان د پنځوسو آس سپرو سره راورسید.

رابین خپلو نفرو ته وویل: دوي ډیر دي، او دوي په آس سپاره دي. بیرته ځنګل ته لاړ شی! ماریان، راشه!

بیا ویل سکارلیټ غږ کړ: رابینه! دوي کوچنی جان ټپي کړی!

کوچني جان وویل: زما لپاره صبر مه کوئ، زما پښه ده. زه نشم تللی. لاړ شی! لاړ شی!

رابین وویل: هیڅکله!

د ویل او ماریان په مرسته، هغه کوچنی جان په شا کړ او د ځنګل سرک په طرف یې منډه کړه. ناڅاپه یو سړی په سپین آس باندې د دوي مخې ته راووت. هغه د لي ریچارډ وو.

زرشه، رابینه، کوچنی جان په آس کینوه او ما پسې راشی. ولسوال او د هغه نفر به تاسو زما په کور کې پیدا نکړي! نو ښاغلي ریچارډ له خپلو ملګرو رابین، ماریان، کوچني جان او ویل سکارلیټ سره مرسته وکړه. دوي په هغه شپه د ښاغلي ریچارډ په کور کې پاتې شول. رابین ښاغلي ریچارډ او د هغه ښځې ته د مسابقې او د ځنګل نورو کارنامو په اړه وویل.

د ښاغلي ریچارډ ښځې ماریان ته وویل: تا ډیرې کارنامې درلودې، زما اغلې، خو ته ډیر خطرناک ژوند کوې. ته نشې کولی کور ته لاړه شې او خپل پلار وګورې. دا کارنامې به څنګه ختمې شي؟ کله به ته ځنګل خوشی کړې؟

ماریان ځواب ورکړ: یو ورځ، ریچارډ پاچا[1] به کورته راځي، بیا به ژوند د غریبانو لپاره ښه وي او زه او رابین به کور ته لاړ شو.

[1] King Richard

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوړ کشيش

خلکو له ريچارډ پاچا سره مينه درلوده ځکه چې هغه يو شجاع سړی او ښه پاچا وو. خو د هغه ورور، شهزاده جان، يوازې غوښتل چې پاچا او امير اوسي. خلکو له هغه نفرت درلود.

کله چې ريچارډ پاچا په انګلستان کې وو، شهزاده او نور د نورمان مهم مشران مجبور وو چې د هغه اطاعت وکړي. دوي نشو کولی چې له ضعيفو خلکو څخه پيسې او ځمکې واخلي. خو ريچارډ په بيت المقدس[1] کې د ډيرو کلونو لپاره جګړه وکړه. کله چې پاچا لرې وو، شهزاده جان او د هغه ملګري حريص او نا مهربانه وو.

بيا، يوه ورځ، شهزاده جان د ناټينګام څخه يو ليک تر لاسه کړ.

ولسوال ليکلي وو: زما ښاغلي شهزاده، خلک وايي چې ستا ورور ريچارډ دلته په شمال کې ده. دوي وايي چې ښار په ښار ګرځي او زما په اړه پوښتنې کوي – او ستا په اړه. مونږ بايد ډير پام وکړو...

نو شهزاده فکر وکړ: ريچارډ بيا په انګلستان کې دی. ولې هغه نده مړ شوی؟ او ولې هغه دلته لندن ته نده راغلی؟ هغه زما په اړه څه کيسې اوري؟ زه فکر کوم چې بايد ناټينګام ته لاړ شم او خپل ولسوال ملګری وګورم. شايد هغه ماته ووايي.

نو شهزاده شمال لوې سرک باندې د ولسوال کور طرف ته روان شو. سل قوي نفر له هغه سره لاړل. دوي په سرک باندې د شيروډ ځنګل طرف روان شول، او هلته دوي له راهب سره وليدل. سړی ډير لوړ او قوي وو او هغه لويه خولی په سر کړې وه.

شهزاده وويل: ښه، کشيشه، ته يو شجاع سړی يې. آيا له تا سره څوک نشته؟ آيا ته نه ډاريږې؟ آيا ته نه پوهيږې چې غل رابين هوډ، د شيروډ په ځنګل کې اوسيږي؟

کشيش وويل: خلک وايي چې رابين هوډ غريبانو ته ضرر نه رسوي.

شهزاده په غوسه ځواب ورکړ: خلک احمقانه شيان وايي، دوي وايي چې زما ورور ريچارډ په انګلستان کې دی. خو زه وايم چې هغه مړ شوی! نو زه به پاچا شم. اوس زما له مخې لرې شه!

لوړ سړی د آسونو له مخې لرې شو. هغه شهزاده جان او د هغه نفرو ته د څو دقيقو لپاره وکتل. بيا هغه سرک پريښود او په بيړه ځنګل ته ننووت. لوړ سړي د ډير وخت لپاره مزل وکړ. ماښام راغې. بيا هغه پورته په ونو کې يو څه واوريدل: ماښام پخير، وروره. ولې ته په ځنګل کې روان يې؟ آيا هيڅوک له تا سره نشته؟ آيا ته نه ډاريږې؟

لوړ سړي وخندل:

يو بل چا هم له ما څخه دا پوښتنه وکړه. زه نه ډاريږم. زه په رابين هوډ پسې ګرځم.

ويل سکارليټ له ونې څخه را ټوپ کړ.

هغه وويل: بيا نو زه به تا هغه ته ورولم.

[1] Jerusalem

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دوي د ځنګل منځ ته ورسیدل، د رابین نفر هلته وو. هلته په مینه باندې ښه خوراکونه ول.

ویل غږ کړ: رابین! دا ښه کشیش غواړي چې له تا سره وګوري.

رابین وویل: مونږ هم غواړو چې له هغه سره وګورو، مونږ به له امیرانو سره ډوډۍ وخورو، خو له دوي څخه د ډوډۍ روپۍ اخلو. غریب خلک مونږ ته خپلې کیسې وایي. ستا کیسه څه ده، ملګریه؟ ولې ته غواړې له ما سره وګورې؟

کشیش وویل: دا زما کیسه ده، ما له پاچا ریچارډ سره انګلستان پریښود. اوس پاچا بیا په انګلستان کې دی، او زه هم راغلی یم. هر چیرته خلک ماته د رابین هوډ په اړه کیسې وایي، نو ما وغوښتل چې له هغه سره وګورم.

ماریان وویل: اوه، رابینه، دا په زړه پورې ده، پاچا دلته په انګلستان کې ده! راځې چې لاړ شو او هغه پیدا کړو. مونږ کولی شو چې هغه ته د ولسوال او شهزاده جان په اړه هر څه ووایو...

رابین وویل: زه د پاچا په پرتله بل د هیچا سره دومره مینه نه لرم، خو هغه به څه فکر وکړي؟ د هغه ورور حریص انسان دي. زه هغه ته دا ویلی شم. خو شهزاده جان به وایي چې زه غل یم. زه فکر کوم، چې د اوس لپاره، به زه خاموش پاتې شم.

لوړ کشیش ودرید.

هغه وویل: رابینه، ته غلط یې، بیا هغه په زوره وویل: ماته ووایه! ماته ووایه!

ناڅاپه پنځوس قوي نفر له تیارې شپې څخه راووتل او د هغه شاته ودریدل.

رابین وویل: دا څه دي؟ آیا ته د شهزاده جان نفر یې؟ آیا شهزاده جان او د هغه نفر دلته دي؟ آیا دوي په ریښتیا هم ډیر قوي دي؟

شاید زما ورور یو شجاع سړی نه وي. خو زه ریچارډ یم، ستاسو پاچا، او ما غوښتل چې مشهور رابین هوډ ووینم. ما ستا په اړه ښې کیسې اوریدلي، رابینه. او نورو زما د ورور په اړه بدې کیسې وویلې. زه پوهیږم چې جان ستا ځمکې ولسوال ته ورکړي. خو له نن څخه وروسته، ته به د لوکسلي رابین شې، او د پاچا ملګری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آخري کارنامه

هغه د شيروډ ځنګل له پيښې وروسته، ريچارډ پاچا بيا لندن ته لاړو. رابين او د هغه نفرو ځنګل پريښود. ويل سکارليټ د پاچا سره لندن ته لاړو، خو کوچنی جان د رابين او ماريان سره په لوکسلي کې پاتې شو.

◆

يوه ورځ، دوه کاله وروسته، رابين خپل پخوانی ملګری وليد، کشيش ټک. دوی د ډير وخت لپاره د خپلو کارنامو په اړه خبرې وکړی.

کشيش وويل: اوس زه ډير ښه خوراک کوم، رابينه، زه ډير چاغ شوی يم او جنګ نشم کولی. خلک وايي چې ريچارډ پاچا مريض ده. زه هيله لرم چې هغه د ډير وخت لپاره ژوند وکړي. زه نه غواړم چې بيا په ځنګل کې په سخت تخت باندې خوب وکړم!

د کور په لاره، رابين ورو تلو او د کشيش ټک په خبرو يې فکر کاوه. بيا هغه په سرک باندې د آسونو د پښو غږ واوريد، او پورته يې وکتل. هغه ولسوال او د هغه نفر وو.

ولسوال غږ کړ: رابين فيټزوته، زه د پاچا څخه ليک لرم. هغه وويل چې ته به له ما سره ځې!

رابين پوښتنه وکړه: د ريچارډ پاچا څخه؟ ولې پاچا ته راوليږلې؟ هغه پوهيږي چې زه او ته سره جوړ نه يو!

ولسوال نږدې راغی، خو ډير نږدې نه. هغه له رابين څخه ډاريده.

هغه ځواب ورکړ: ريچارډ پاچا نه، ريچارډ مړ شو! زه د جان پاچا په اړه غږيږم. هغه ونيسې، نفرو!

رابين خپله توره راوباسله او جګړه يې شروع کړه. او همزمان هغه ورو د ځنګل په طرف روان شو. هلته ډير نفر ول – هغه نشو کولی چې وګټي. د هغه ښي لاس ټپي شو، او ډير بد خووګ شو.

کله چې هغه ځنګل ته ورسيد، هغه منډه کړه. هغه کولی شو په ځنګل کې خپله لار ډيره ښه پيدا کړي، او د ولسوال نفرو څخه ورک شو.

رابين د ځنګل له لارې د مريم کليسا ته لاړو. د کليسا مخې ته، هغه ځمکې ته وغورځيد. هلته، د راهب نفرو هغه پيداکړ.

راهب وويل: دا رابين هوډ دې! زه به هغه ووژنم، خو دا کليسا ده. هغه يوې خوابګاه ته بوځئ. ته، سړيه، ولسوال ته ورشه. هغه ته ووايه چې رابين هوډ په کليسا کې ده.

◆

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابین ویښ شو. هلته په کوټه کې هیڅوک نه ول. هغه ډیر ضعیف شوی وو او له تخت څخه نشو تللی. بیا هغه د ملګري غږ واورید.

کوچني جان وویل: رابینه! زه راځم، ته چیرته یې؟

رابین په کمزوری وویل: دلته! زه دلته یم!

کوچني جان دروازه ماته کړه.

رابین ډیرې ورو خبرې کولې.

کوچني جانه، له ما سره په اخري ځل مرسته وکړه. ما ورسۍ ته ورسوه. ښه اوس خپل کمان ماته راکړه.

کوچني جان له رابین سره مرسته وکړه چې غشی په کمان کې کیږدي. دوي کش کړ. غشی په ډیره فاصله لاړو، د ځنګل منځ ته.

رابین وویل: ما هغه ځای ته بوځه او هلته ما په ځمکه پریږده.

هلته یو ځای ده په ځنګل کې کلیسا ته نږدې. هلته تاسو کولی شې دا جملې پیدا کړې:

د دې تیږي لاندې رابین هوډ دی.

رابین او د هغه ملګري په یاد ولرې –

بل شجاع نفر به بیا رانشي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**